اتم لیکچر کره کتنه {تنقید}

دریم سمسټر

پښتو ډيپارټمنټ

یونیورسټي آف بلوچستان کوئټه

# تنقیدي مکتبونه

تقابلي تنقید        روماني تنقید        جمالیاتي تنقید

تقابلي تنقید = په تنقیدي مکتبونو کښي تقابلي تنقید و هغه تنقید ته وئیل کیږي چي په هغه کښي د فنپارو په منځ کښي موازنه او مقابله کیږي خو د نورو مکتبونو په رنګه نه تقابلي تنقید و ځان ته خپل څه اصول لري

البته چي د کومو فنپارو موازنه چي کیږي هغه به د یوه مزاج وي

کومي فنپارې چي په مزاج او په هئیت کښي یو شان ته
وي د هغو تقابله کېدائي سی
فکر او د غالب د یووالي په شرط تقابلي تنقید کیږي
د بېلګي په توګه د دوو فنپارو فکر به رزم بزم یا تصوف
وي که یوه د رزم وي بله به هم د رزم وي که یوه د بزم
وي بله به هم د بزم وي په فکري اعتبار د تصوف او د
بزم یا د تصوف او رزم تقابلي کره کتنه نه سي کېدلائ
هم دغه راز تقابلي تنقید صنفي امتیاز هم پر ځان نه قبلوي
د شعر موازنه به شعر سره او د نثر موازنه به د نثر سره

کیږي په نثر کښي به ناول د ناول سره افسانه د افسانې سره
موازنه کیږي مطلب فکر او صنف به یو وي بیا تقابلي کره کتنه
کیږي د تقابلي کره کتني پر وخت د زمانې خیال هم ساتل په
کار دی په خاصه توګه په دې تنقیدي مکتب کښي د دغه
لوازماتو د پوره کولو وورسته د فنپارو په منځ کښي معیار
ټاکل کیږي
په دې تنقیدي مکتب کښي موازنه د فنپارو د معیار د کمولو
یا د زیاتولو د پاره نه بلکي د دوواړو په منځ کښي بېل بېل معیار
د ټاکلو د پاره کیږي

# روماني تنقيد

روماني تنقيد په ادب کښي د روماني تحريک ثمره ده د روماني تحريک د راتلو سره دغه تنقيدي مکتب خپل حثيت په باقاعده توګه پيدا کړی

وس به مختصره خبره پر رومانويت وکو چي رومانويت څه دی موږ ته به بيا روماني تنقيد ښکاره سي چي څه دی رومانويت د کلاسيکيت په ضد راپورته سوی تحريک دی کلاسيکيت په ادب کښي روايت ساتونکی تحريک دی او رومانويت روايت ماتوي خو په اصولو کښي د ننه .

رومانویت په ادب کښي د خیال اذادي  د بې ساخته جزباتو
بې ساخته اظهار ښکلا پرستي او د ژوند د حقیقتونو ځان
لیري ساتل د رومانویت د تحریک غوښتنه ده د ژوندن د ترخو
رشتیا څخه سترګي پټول د دوئ منشا ده
د دې برعکس کلاسیکیت ادب د ژوند د پاره بولي او و هر څه
ته د ژوندن د ګټو په تناظر کښي ګوري هم دغه د دوئ په
منځ کښي فرق دی
"د رومانوي کره کتونکو په نېز د جزباتو بې ساخته څرګندونه
پر ښکلا دریږي .او ښکلا د لوستونکي لپاره د خوشالۍ وړ
ګرځي." ډاکټر نصیب الله سیماب .د کره کتني اصلاحات ص۲۱۶

لکه څنګه چي موږ ته معلومه سوه چي رومانویت په ادب کښي څه غواړي هم دغه غوښتني د روماني کره کتني دی روماني نښاد په فنپاره کښي د خیال ،حسن او تصور لټون کوي او د معیار ټاکلو د پاره يې هم دغه پېمانه ساتلې ده ورسره ورسره د هیئت او د انداز بیان ښکلا هم ګوري رومانوي نقاد په فنپاره کښي مسرت او تسکین د یو څه وخت لپاره لټوي که څه هم دغه تنقیدي مکتب د مغرب اختراع ده خو وس يې اثرات په مشرقي ادب کښي هم ډېر په نظر راځي

# جمالياتي تنقيد .

جمالياتي تنقيد د تشريح كولو مخ كښي بايد د جمالياتو پيژندګلوي وكو جماليات چي و ښكلا ته وئيل كيږي د الفاظو و ترتيب ته هم ښكلا وئيل كيږي په ادب كښي د ښكلا اساسي كردار دى .كه چيري په ادب كښي ښكلا نه وي هغه كه هر څه وي خو ادب نه دى جماليات د حسن او ښائست د مطالعې او مشاهدې نوم دى بنيادي خبره دا ده چي حسن د ترتيب توازن او آهنګۍ نوم دى

“جمالياتي نقاد ادبي تخليقات ميں حسن اور دلکشی پيدا كرنے
والے خصائص کے تجزيه اور مطالعه هى كو اولين اور
اساسي اهميت ديتا هے “
ډاكټر سليم اختر .تنقيدي دبستان ص ۱۰۹
په جمالياتي تنقيد كښي نقد په دوو زاويو كيږي يوه دا چې
په فنپاره كښي تر كومه حده پوري حسن ‘ښكلا او د ښكلا
تصور كارول سوى دى او دويم دا چې په فن پاره كښي
{كه نثري وي كه شعري وي } تر كومه ځائ پوري د
په فني اعتبار د ښكلا او د توازن خيال ساتل سوى دى

دغه توازن او آهنګ ساتل هم د ښکلا يو قسم دی
جمالياتي نقاد په فنپاره کښې ښائست او د ترتيب په
اړوند توکي پيدا کوي او خپل انتقادي نظر پر وړاندي
کوي دغه ته جمالياتي تنقيد وئيل کيږي
په درناوي

# پائ